مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۱۰۰ (از ۲۰ الی ۲۷ جدی ۱۳۹۳ هـ ش)

این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می گردد، تا نهادهای سیاستگذار از آن استفاده نمایند.

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................ ۲

**د ژبې ډيپلوماسي؛ د اړيکو رغولو په اړه د کابل-اسلام اباد هڅه!**

- ګډه ژبه- ګډ ولس؛ د اغېزمنې ډيپلوماسۍ مرکب ........................................ ۴
- کابل ته د پاکستان د پښتنو سیاستوالو سفر ........................................ ۵
- نژدې کېدونکې اړيکې ........................................ ۵

**آیا آزادی بیان مقدس تر از دین است؟!**

- از انگیزه تا انگیخته ........................................ ۷
- آزادی بیان مقدس تر از دین! ........................................ ۸
- بنیاد گرائی اسلامی و خشونت ........................................ ۹
- معیار های دوگانه ........................................ ۹
- پیامد های حمله به شارلی ابدو ........................................ ۱۰

## مقدمه

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې، په فرانسه کې پر يوې طنزيه مجلې (چارلي ابدو) بريد، چې نړيوال غبرګونونه يې پارولي دي او افغانستان ته د پاکستاني پښتنو سياستوالو د سفر په تړاو، د مرکز د څېړنيزې څانګې شننې لولئ.

په کابل کې د ملي يووالي حکومت له منځ ته راتګ سره د کابل-اسلام آباد اړيکي او راشه-درشه زياته شوې ده. په همدې تړاو کابل-اسلام اباد د خپلې تاريخي ′کمزورۍ′، چې پښتانه دي، پر مټ غواړي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې ژبې په مرسته د بې باورۍ فضا ختمه کړي.

په فرانسه کې د تېرې چهارشنبې په ورځ د درېوو وسلوالو ځوانانو له خوا د (چارلي ابدو) د طنزيه مجلې پر دفتر بريد وشو، چې ۱۲ کسان په کې ووژل شول. د فرانسې دغې وروستۍ پيښې نړيوال غبرګونونه پارولي دي او په کلکه غندل شوي هم دي. خو پوښتنه ولاړېږي، چې دغه غرب چې نقد او انتقاد ورته له هر مقدس دين څخه پورته دی، د (چارلي ابدو) له فحشه ډکې او ولېدلې خبرې به هم د دوی د نقد او انتقاد په لمن کې راځي؟ آيا پر دين باندې ملنډې وهل او انتقاد يو دی؟ ولې دا متمدنه نړۍ د همدې نړۍ يو نيم مليارد اوسېدونکو ته سپکاوی وکړي؟ او آيا له فحشه ډکې خبرې او سپکې سپورې هم د بيان آزادي ده؟؟ که په لويديځ کې د الهي اديانو په تېره بيا د اسلام سپکاوی همدا ډول د بيان د ازادۍ تر چتر لاندې روان وي، نو دغه چلند به توندلاري نوره هم زياته نه کړي؟ دغه هغه موضوعات دي، چې دلته يې د شننو تفصيل لولئ:

# د ژبې ډیپلوماسي؛ د اړیکو رغولو په اړه د کابل-اسلام اباد هڅه!



له تېرو شپږو لسیزو راهیسې کابل له اسلام اباد سره د «ژبې» او «توکم» پر سر ډېرې شخړې لرلې دي؛ د دواړو هېوادونو د اړیکو د خرابوالي يو عمده لامل هم، همدا ژبه او توکم وو. د کابل-اسلام اباد اړیکو کې ګډې ژبې او مشترک توک د نورې تړی پر خلاف د اړیکو د خړپړتیا لامل شوي وو.کابل به پخوا کله د پښتنو سیاسي مشرانو د بندي کېدلو له کبله او کله به بیا د لویدیځ پاکستان د «يو کولو» له امله پارېده. له همدې ځایه به یې د پاکستان پښتنو ته په خپل زړه کې ځای ورکاوه؛ خو دغې کړنې به بیا پاکستانیان پارول او د افغانانو دغه کړه وړه به یې په خپلو داخلي چارو کې له لاسوهنې سره مترادف ګاڼه. افغانستان، چې د پښتنو تاریخي زېږنځای دی، به ځان په اخلاقي توګه اړ ګاڼه، چې د پښتنو د حقونو خبره وکړي، له بلې خوا به اسلام آباد د پاکستان پښتانه نشنلېسټ سیاسي ګوندونه له دې امله ملامت او تورنول، چې دوی ولې له خپلو پښتنو ورونو سره، چې په کابل کې دي، تودې اړیکې او راشه-درشه لري؟له همدې ځایه د دواړو خواوو پښتنو ته همدا ګډه «ژبه» او ګډ «توکم» سور اور ګرځېدلی و.

که څه هم افغانستان د پاکستان له پښتنو سره تر ۱۹۷۹ کال پورې تودې اړیکې درلودلې؛ خو د شورویانو له یرغل سره سمدلاسه د کابل او پښتنو قبایلو ترمنځ دغه ډول اړیکې پرې شوې او د قبایلو اړیکې د کابل پر ځای له اسلام اباد سره د رغېدلو پر لور ولاړې؛ ځکه د شورویانو له وتلو سره افغانستان پر یوه داسې خوا ولاړ، چې لا تر اوسه یې له ځان پرته د نورو لپاره د فکر چانس نه دی پیدا کړی.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې له پېښو وروسته په افغانستان کې حامد کرزي د واکمنۍ واګې په لاس کې ونیول، ده د افغانستان پخوانۍ سیاست تعقیب کړ او د پښتنو مشران یې په تکرار کابل ته رابلل.

پاکستان چې پخوا به د کابل له دغه ډول سیاست څخه وېره او اندېښنې درلودلې، په پای کې یې جنرال مشرف دغه سیاست ته د پای ټکی کېښود او د افغانستان-پاکستان ترمنځ یې لویې جرګې پېل کړې. که څه هم دغو جرګو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په رغولو کې مهم رول ونه لوباوه؛ خو د دواړو غاړو پښتنو ته یې په رسمي توګه یو پلېټ فارم جوړ کړ.

## ګډه ژبه-ګډ ولس؛ د اغېزمنې ډیپلوماسۍ مرکب

په نړۍ کې دوه ډوله ډیپلوماسۍ وي، یو د حکومتونو ترمنځ رسمي اړیکي، راشه-درشه او ډیپلوماسي او بله چې تر ټولو اغېزمنه بلل کېږي، د ملتونو یا د خلکو ترمنځ اړیکي او راشه-درشه دي.

د پاکستان له ازادۍ سره جوخت افغانستان او پاکستان له یو بل سره رسمي اړیکي لرلې دي. هغه مهال د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه خپل سفیر د پاکستان ملي پلار، محمد علي جناح ته ولېږه او هغه هم ومانه. خو د دواړو هېوادونو د ملتونو او خلکو ترمنځ اړیکي له ۱۹۷۹ کال راهیسې هغه مهال پېل شوې، چې کله له پنځو میلیونو څخه زیات افغان کډوال پاکستان ته په هجرت کولو اړ کړای شول. له هغه مهاله تر اوسه د دواړو هېوادونو د ملتونو ترمنځ ښې اړیکي ټینګې شوې دي.

که څه هم دواړو هېوادونو د سړې جګړې پرمهال د ګډې ژبې او ګډ ولس له کبله په اړیکو کې ډېرې ستونزې ولیدلې، لکه څرنګه چې مخکې یې هم یادونه وشوه، چې کابل به د اسلام اباد پر هغو کړنو چې په اسلام اباد کې به د وخت حکومت د پاکستان له پښتنو او د پښتنو مشرانو سره ترسره کولې، پرخلاف مدام خپل غبر پورته کاوه، همدا ډول اسلام اباد به هم د کابل دغه سیاست ته، چې ولې د پاکستاني پښتنو د حقونو خبره کوي، د شک په سترګه کتل او دا سیاست به یې په خپلو داخلي چارو کې له لاسوهنې سره تشبیه کاوه؛ خو اوس دواړو لورو پتېیلې ده، چې د خپلې همدغې «کمزورۍ» پر مټ به د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور جوړونې په پروسه کې ترې کار اخلي.

په پاکستان کې هم، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ډیپلوماتان او نور پاکستانیان په دې اند دي، چې د همدې ګډې ژبې په مرسته دوی کولای شي، څو د افغانستان-پاکستان ترمنځ نه یوازې دا چې د بې باورۍ فضا ختمه کړي، بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په رغولو کې هم ترې کار واخلي. دوی دغو هڅو ته خوشبینه دي او ترڅنګ یې ورته د ژبې د ډیپلوماسۍ نوم هم ورکوي.[1]

---

[1] InamullahKhattack, Pakistan launches Pashto Diplomacy to woo Kabul, The Nation, 11 Jan 2015, see it online: <http://nation.com.pk/national/11-Jan-2015/pakistan-launches-pashto-diplomacy-to-woo-kabul>

## کابل ته د پاکستان د پښتنو سیاستوالو سفر:

ولسمشر اشرف غني تېره اوونۍ د پاکستان د پښتنونشنلېست، مذهبي او سېکولار ګوندونو پلاوي کابل ته راوبلل، چې له مخې یې محمود خان اڅکزی، افراسیاب خټک او افتاب شېرپاو کابل ته په دوه ورځني سفر راغلل؛ خو مولانا فضل الرحمان له راتګه ډډه وکړه. دغه پاکستاني پلاوي په کابل کې له ولسمشر، اجرائیه رئیس، پخواني ولسمشر، د سولې عالي شورا له رئیس، د ملي امنیت سلاکار رئیس، د پارلمان غړو او سیاستوالو سره وکتل.

په کابل کې دغو پښتنو سیاستوالو پر هغو ستونزو خبرې اترې وکړې، چې په ډېرې توګه د افغانستان، خېبر پښتونخوا، بلوچستان او د قبایلو پښتنو ته راجع کېدلې لکه په دواړو هېوادونو کې د امنیتي حالت ښه والی، له «ترهګرۍ سره ګډه مبارزه» په پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو ستونزې او نور.

دغه سفر یوازې د دواړو هېوادونو په تېره بیا د خېبر پښتونخوا د پښتنو او د افغانستان ترمنځ د باور جوړونې یوه هڅه وه، نور څه نه. ځکه راغلی پلاوی نه شي کولای چې ان د خېبر پښتونخوا پر صوبایي حکومت خپلې اغېزې پرېباسي، پاتې خو د پاکستان مرکزي حکومت شو. په دې اړه اړینه وه، چې کابل لږ تر لږه د پاکستان تحریک انصاف د پېښور غړي یا د خېبر پښتونخوا د صوبایي حکومت وزیران رابللي وای.

## نژدې کېدونکې اړیکې

د نوي ملي یووالي حکومت له راتللو سره پاکستان په لومړي ځل انګېرلې ده، چې له طالبانو وروسته په افغانستان کې خپلې اړیکې له دغه هېواد سره رغولای شي. له دې وړاندې به پاکستاني ډیپلوماتانو او رسنیو ښاغلی کرزی د Unpredictable وړاندوینې نه وړ په نامه یاداوه. له همدې ځایه ده، چې پاکستاني مشرانو د اشرف غني له راتللو سره د کابل په لور سفرونه کړې دي. کابل هم په همدې هڅه کې دی، چې له پاکستان سره خپلې اړیکې په اقتصادي، ترانزیتي او تجارتي برخوسره سره په امنیتي برخو کې هم ورغوي او په تېره بیا له اسلام اباد څخه د سولې او پخلاینې په پروسه کې هم مرسته وغواړي. د دواړو خواو دغه لېوالتیا به په لاندې سفرونه کې، چې د اشرف غني له راتللو سره سم ترسره شوي دي، په ښه توګه روښانه کېږي:

- کابل ته د اشرف غني د لوړې پر ورځ د پاکستان جمهور رئیس ممنون حسین سفر؛
- کابل ته په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر نوازشریف سلاکار سرتاج عزیز سفر؛
- کابل ته د پاکستان د لوی درستیز راحېل شریف دوه سفرونه؛

- کابل ته د آی ایس آی مشر، رضوان اختر، درې ځله سفر (لومړی سفر یې د خپلې دندې په لومړۍ ورځ، دویم سفر یې له راحیل شریف سره یوځای د پېښور له خونړۍ پېښې (۱٦ دسمبر) له کبله درلود او درېیم سفر یې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په ۱۲ مه کابل ته وکړ؛
- اسلام اباد ته د ښاغلي اشرف غني سفر؛
- راولپېنډۍ ته د افغانستان لوی درستیز شېر محمد کریمي سفر؛
- پاکستان ته د افغانستان د پارلماني غړو سفر؛
- پاکستان ته د افغانستان د تجارت او صنایع سرپرست وزیر مزمل شینواري سفر؛
- کابل ته د پاکستان سیاسي ګوندونو پلاوي سفر.

شونې ده، چې اسلام اباد ته به د افغانستان د سولې عالي شورا رئیس صلاح الدین رباني او د افغانستان اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله هم سفرونه ترسره کړي.

په کابل کې د ملي یووالي په نامه د حکومت له منځ ته راتګ سره دغه سفرونه او راشه درشې له بل هر وخته زیاتې شوې او تودې شوې دي؛ مګر تر اوسه معلومه نه ده چې دغه تودې اړیکي به وکولای شي چې د سولې په تړاو کومه پاموړ پایله ولري کنه. د کابل دلچسپي ځکه پاکستان سره زیاته شوې ده، چې کابل ګومان کوي د سولې کیلي له پاکستان سره ده.

## آیا آزادی بیان مقدس تر از دین است؟!




حملهء 7 جنوری سه جوان مسلح به دفتر مجلهء طنز و کارتون شارلی ابدو به کشته شدن دوازده تن انجامید. دو تن از این کشته ها پولیس و ده تن دیگر گردانندگان این مجله بودند. در میان کشته شده ها کسی که کارتون پیامبر بزرگ اسلام را کشیده بود، شامل است. واقعهء گروگان گیری در یک سوپرمارکیت یهودیان نیز کشته هائی بجا گذاشت.

این واقعه در جهان واکنش های وسیعی را بدنبال داشت که واقعهء بی پیشینه در طول چهل سال گذشته بود. این ماجرا حتی با واقعهء یازدهم سپتامبر 2001 در امریکا نیز قابل مقایسه دانسته شد. شعار «ما شارلی هستیم» نیز یاد آور شعار «هرکه با ما نیست، علیه ماست» بود که بعد از یازدهم سپتامبر توسط جورج بوش مطرح شد.

### از انگیزه تا انگیخته:

در غرب واقعه ای سخت تکان دهنده روی داده که واکنش های عاطفی و مملواز خشم را برانگیخته است. خشونت بشکل برهنه از کشوری قربانی گرفته که در کشورهای دیگر از آسیا گرفته تا افریقا با ادعای مبارزه با تروریسم، مداخلهء نظامی دارد.

اکثر تحلیل هائی که در این رابطه در رسانه های غربی به نشر می رسد مبین دیدگاههای انتزاعی بوده و ناظر بر اینست که از انگیزه ای که در عقب این اقدام تروریستی وجود داشته، نباید سخن گفت. آنچه مهم است مذمت انگیخته است؛ کسانی که نه تنها انسانها را کشته اند بلکه به«حق آزادی بیان» که بالاتر از هر اعتقادی است، حمله کرده اند. در اینجا واکنش مذموم است و نباید از کنشی که واکنش برانگیخته است حتی سخن به میان آورد. گفته شد که این حمله با هیچ انگیزه ای قابل توجیه نیست. مسلمانان افراطی به ارزش های دنیای غرب حمله کرده اند و نباید به هیچ صورت گردانندگان شارلی ابدو را در تحریک

احساسات مسلمانان مقصر دانست. اگر انگیزه ای است در متون دینی مسلمانان است نه در عملکرد گردانندگان شارلی ابدو ویا بالاتر از آن سیاست دنیای غرب در برابر مسلمانان.

## آزادی بیان مقدس تر از دین!

هوادارن آزادی بیان به شیوهء غرب به این باور اند که هیچ ارزشی  وهیچ دین و عقیده ای بحدی مقدس نیست تا از نقد و حتی توهین برکنار باقی بماند و در این مورد هیچ جائی برای سوال موجود نیست. اما آیا واقعا توهین را می توان با نقد یکسان دانست؟ در رسانه های غرب سالهاست همه روزه انتقاد های فراوانی علیه اسلام به نشر می رسد و مسلمانان هم به آن جواب می دهند اما فحش ها ودشنام های کوچه وبازاری را که در مجلهء شارلی ابدو علیه اسلام به نشر می رسید می توان نقد نامید؟ آیا فحش ودشنام آزادی بیان است؟

جالب اینجاست که عده ای مدعی شده اند که شارلی ابدو تنها به پیامبر مسلمانان توهین نکرده بلکه به آدرس حضرت عیسی پیامبر مسیحیان و حضرت موسی پیامبر یهودیان هم انتقادات موهن داشته است. پس چرا باید مسلمانان از توهین به پیامبر شان ناراحت باشند؟! کسانی که این مطالب را در توجیه توهین های شارلی ابدو به اسلام مطرح می کنند آیا واقعا از جایگاه مقدس عیسی و موسی در نزد مسلمانان چیزی نمی دانند؟ آیا نمی دانند که مسلمانان به آن پیامبران بیش از مسیحیان و یهودیان احترام دارند و از نظر مسلمانان توهین به آنان هم توهین به اسلام است؟

اما از همه مهمتر اینکه وقتی کسی مدعی می شود که «من به این باورم که هیچ دین و مذهبی تقدس ندارد و بالاتر از آزادی بیان نیست» آیا چنین باور به معنی مقدس دانستن آزادی بیان نیست؟ وقتی آزادی بیان بر جای دین می نشیند، جانشین دین باوری می شود و مقام تقدس می یابد، پس یگانه چیزی که از قابل انتقاد نیست، آزادی بیان است. بر بنیاد همین باور، این حمله بشکل انتزاعی و مجرد و بدون درنظر گرفتن رابطهء آن با صد ها ماجرای جهان معاصر مورد مذمت یک جانبه قرار می گیرد.

## بنیاد گرائی اسلامی وخشونت:

قدرت های حاکم در غرب فرصتی بدست آورده اند تا با استفاده از جو وفضای ناشی از حمله به شارلی ابدو، اسلام وتعالیم اسلامی را مقصر قلمداد نمایند. اما آیا می توان ماجرای 7 جنوری پاریس را بی ارتباط به کشتار صدها هزار انسان از آسیا گرفته تا افریقا بررسی کرد؟

آیا کشتار 7 جنوری پاریس هیچ رابطه ای با کشتار صدها هزار مسلمان در عراق و لیبی ومصر و افغانستان و فلسطین و یمن ... هیچ رابطه ای ندارد؟

مگر همین اسلام و همین متون اسلامی در طول قرنها در جهان وجود نداشت؟ مگر این تعالیم را مسلمانان به تازگی از القاعده و طالبان و داعش فراگرفته اند؟!! چرا در گذشته چنین گروه ها در میان مسلمانان قد علم نکرد؟

چرا در زمان تجاوز اتحاد شوروی به افغانستان، اینهمه جوان مسلمان از کشورهای غربی به افغانستان نمی آمدند و امروز به سوریه و عراق و یمن می روند تا در کنار القاعده و داعش بجنگند؟ این تمایل، زادهء کدامین نظام سلطه بر جهان است؟

## معیار های دوگانه:

در اینجا به هیچ صورت هدف دفاع از این حملهء تروریستی نیست اما در جهان غرب تمایل بر اینست که هرگاه یک گروه غیر مسلمان دست به خشونت بزند، عملی در مقیاس کوچک شمرده شده و بر تمام پیروان آن دین تعمیم نمی یابد اما در مورد مسلمانان وضع چنین نیست.

اقدامات نئو نازی ها در آلمان و همفکران آنان در تمام کشور های اروپائی که ناشی از نژاد پرستی است، به مسیحیان نسبت داده نمی شود هرچند نشان آنان نیز صلیب است. کشتار فلسطینی های بیدفاع بدست رژیم اشغالگر اسرائیل به همه یهودیان تعمیم نمی یابد اما اگر یک مسلمان دست به اقدامی خشونت آمیز بزند، به تمام مسلمانان نسبت داده می شود و در چنین حالت غرب انتظار دارد تا نه تنها رهبران جوامع مسلمان در غرب بلکه مسلمانان در سراسر جهان اسلام باید از این کار معذرت بخواهند. چرا نباید چنین انتظاری را از غیرمسلمانان داشت؟

در فرانسه 6 ملیون مسلمان وجود دارد که بیشتر آنان از مستعمره های سابق فرانسه آمده اند. اعضای این اقلیت دینی مورد تبعیض قرار دارند. بعنوان مثال در فرانسه که آزادی بیان را بعنوان یک حق برای تمام افراد جامعه برسمیت می شناسد اما در همین کشور زنان مسلمان حق ندارند تا موهای خود را با چادر بپوشانند زیرا چادر بعنوان نشان هویت دینی، حق محسوب نمی شود!!

## پیامد های حمله به شارلی ابدو:

از چندسال بدینسو هزاران تن از جوانان مسلمان از کشورهای اروپائی راهی جبهات جنگ سوریه، عراق و یمن شدند. این مسئله در کشورهای غربی این نگرانی را بمیان آورد که اگر این افراد به کشور های شان برگردند، ممکن است در این کشور ها موجب ناامنی شوند. اکنون این ماجرا می تواند بهانه ای برای کشورهای اروپائی برای ایجاد محدودیت های بیشتر بر اقلیت های مسلمان در تمام کشورهای اروپائی بخصوص فرانسه گردد. از همین اکنون این مسئله مورد بررسی قرار گرفته تا رفت و آمد در کشور های عضو شنگن محدود تر گردد.

اگر توهین به مقدسات اسلامی همچنان بعنوان آزادی بیان در غرب ادامه یابد، این کار فقط می تواند تندروی های مذهبی را در میان مسلمانان تقویت نماید وعکس العمل های خشونت آمیز بیشتری را موجب گردد.

پایان

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)